گفتمان ملی افغانستان

National Discourse on Afghanistan

دافغانستان ملي خبرې اترې

**پیغام:**

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت**

**سر لیک: د افغانستان د تر ټولو بېړنۍ مهمې ستونزې (بشري حقونو) په اړه علمي او مسلکي کنفرانس ته!**

نېټه: د دسمبر 10 نېټه،کال 2023

(کال 1401 د لېندۍ 19 )

--------------------------

**په اروپا کې د مېشتو افغان حقوق پوهانو د ټولنې رهبرۍ شورا محترمو غړو ته!**

**له غوره هیلو سره:**

**د افغانستان ملي خبرو اترو خوځښت** د ډسمبر لسمه د بشري حقونو نړیوالې ورځې ته په درناوۍ خپله دنده ګڼي چې د ملي ګټو،ملي او بشري ارزښتونو د پلي کولو په موخه ،پل پر پل د روندانو د پراخو پرګنوِ؛ پوهانو،حقوق پوهانو او نورو ملي فکر لرونکو شخصیتونو په ګډون چې د حقونو د نړیوال منشور له احکامو څخه په پوهاوي هغه کوم حقوق چې ټول وګړی په مساوي توګه بی له کوم د : رنګ، توکم(نژاد)، قومیت، جنس او ژبنې توپیر په پام کې نیولو پرته ګټه واخلي ،خپله پرېکنده ملا تړ اعلانوي.

**د ملي خبرو اترو خوځښت** له نني  علمي - مسلکي کنفرانسه چې پکې د حقوقو او سیاسي علومو پوهانو د افغانستان او حتی د نړۍ یو له مهمو ستونزو څخه چې د بشري حقونو مسله ده په بېلابېلو اړخونو او د دې ستونزې د هوارۍ پر عملي لارو چارو خبرې وکړې، او په افغانستان کې د حقوقي کړکېچ(ستونځې )د حل لاره او له هغې نه د وتلو په لارو بوخت دی  خپل ملاتړ اعلانوي ،او څرنګه چې :

**د ملي خبرو خوځښت** له خپل جوړښت وروسته د خلکو د ګټو او حقونو څخه په دفاع کې تل په اروپا کې د افغان حقوق پوهانو د ټولنې تر څنګ ولاړ و او مبارزه یې کړې ،اوس هم به پدې لاره کې مبارزه کوي.

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت په دې باور دی چې :**

ټولنیز عدالت، انساني کرامت ،د قانون او ملي ګټو پر بنسټ ،بشري حقونو ته درناوی، او همدا رنګه بشري حقونو نړیوالې اعلامیې، د مدني او سیاسي حقونو میثاق، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري میثاق

چه د نړیوالو میثاقونو بنسټ دی هغه ته په درناوۍ او د هغو د مکلفیتونو(احکامو) پلي کول د هر غړي هېواد لپاره اړین دي، او دا اصل د یو قانون بنسټه (محوره) حکومت لپاره ضروري ګڼل کېږي.

د 2021 کال د اګسټ له 15مي نېټي وروسته، کله چې د طالبانو واکمني بېرته واک ته ورسېده، په افغانستان کې د دېموکراتیک نظام هیلي وشلېدلي ، مدني جوړښتونه چې د بشري حقونو او د ښځو له حقونو څخه یې ملاتړ کاوه له منځه ولاړل. د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه د عدلیې وزارت تر اغېز لاندې راغله او خپلواکي یې له منځه ولاړه، او یو شمېر نور جوړښتونه د طالبانو له خوا ړنګ او غیر قانوني اعلان شول .

د بیان آزادي، د رسنیو آزادي او د معلوماتو آزاده راکړه ورکړه خپل سخت حالت تېروي.

ښځو خپل سیاسي، مدني، ټولنیز، اقتصادي او کلتوري حقونه تر ډېره حده له لاسه ورکړي او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال افغانستان په حقیقت کې د هېواد د ښځو لپاره په یوه ستر ستونزمن ځای بدل شوی دی.

په پایله کې، په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت او د نړیوالو بشردوستانه حقونو له اصولو سره همغږي په بې ساري ډول کړکېچن او د اندېښنې وړ ګرځېدلي دي.

له بلې خوا، داعش ډله په ډېر کم خوځښت مګر،په سختۍ او ډېر تاوتریخوالی سره، په ظالمانه توګه ملکي خلک او په ځانګړې توګه زیان منونکي مذهبي ډلې په نښه کړي او په هېواد کې یې خورا سخت جنایتونه تر سره کړي دي.

جوته ده چې په افغانستان کې د اتباعو حقوقي وضعیت خورا د اندېښنې وړ دی.

**د ملی خبرو اترو خوځښت** د دې ستر حقوقي ناورین د له منځه وړلو لپاره چې د موجوده واکمنۍ حقوقي ناورین تر شا لري ،هاند باسي تر څو د یو بنسټیز او ریښتینولي خبرو اترو ور د هېواد والو د پراخو پرګنو ،او د حاکمې واکمنۍ پر مخ پرانیځي تر څو چې د هېواد والو لپاره د لاسه تللو اړینو حقونو د تر لاسه کولو لپاره وړ قدمونه واخلي.

پورتنۍ موخې به هغه وخت تر لاسه شي چې د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت،په اروپا کې د افغان حقوق پوهانو ټولنه او ټول مخکښ او متعهد روڼد انده قوتونه خپل د یو والي او سمبالتیا موخه او ونډه د یوې ټول شموله مدني حرکت د جوړېدو لپاره د هېواد په دننه او بهر کې د یو ملي او فکري فورمول پر شا او خوا تر سره کړي.

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت** په داسې حال کې چې په هېواد کې د اساسي قانون د تطبیق او د قوانینو د دوام لپاره **په اروپا کې د افغان حقوق پوهانو د ټولنې** له هڅو څخه پرېکنده ملاتړ کوي، د یادو سترو ملي موخو د پلي کولو په لاره کې به په نه ستړي کېدونکو هلو ځلو سره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

**په ډېر درنښت**

**د افغانستان د ملي خبرو د همغږۍ شورا**

***